# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**21دلو _سال 1402**





# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب

**عنوان** **صفحه**


د اروپايي ټولني ځانګړي استازي د مهاجرينو چارو له سرپرست وزير سره وليدل---------------------------------1

یک مرکز استقبال برای مهاجرین در خط فرضی بندر غلام خان، در ولایت خوست ساخته می شود -------------------1

د مهاجرينو چارو سرپرست وزير د پکتيا ولايت د مهاجرينو چارو رياست څخه ليدنه وکړه---------------------------2

برای بیش از ۱۰۰ خانواده، درولایت جوزجان کمک خوراکی و غیر خوراکی توزیع شد -----------------------------3

۳۰ خانواده، در ولایت پروان کمک شد--------------------------------------------------------------------5

فارياب کي د دايمي مېشتېدنې کمپټي ناسته وشوه ------------------------------------------------------------6

برای ۳۰۰ خانواده در ولایت جوزجان مساعدت شد ----------------------------------------------------------6

هلمند کي له سلګونو کورنيو سره مرسته وشوه -------------------------------------------------------------7

بیش از ۲۰۰ تن مهاجر ازپاکستان طور اجباری به وطن برگشت نمود -------------------------------------------9

تر زرو زيات مهاجرين ايران څخه پخپله خوښه او په جبري توګه هېواد ته راستانه شول ----------------------------9

کمیته صلیب سرخ نسبت به آینده نا روشن پناهنده گان افغان برگشته از پاکستان هشدار داد-------------------------9

يونان: اروپايي محکمې حکومت ته امر کړی چې يوې مېرمنې او ماشوم ته يې اسانتياوې برابرې کړي ------------10

د شکنجې د مخنيوي کميټه: کډوال د نامعلومې مودې لپاره زندان ته ورته توقيف ځايونو کې ساتل کېږي -----------13

کشتی غرق شده در سواحل ایتالیا: یک قاچاقبر به ۲۰ سال حبس محکوم شد ---------------------------------------14

# متن کامل اخبار

## د اروپايي ټولنې ځانګړي استازي د مهاجرينو چارو له سرپرست وزير سره وليدل

د وزارت ويب سايت



د افغانستان لپاره د اروپايي ټولنې ځانګړي استازي توماس نېکولسن او د افغانستان لپاره ددغه ټولنې سفيرې رافيلا يوديچه د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزارت سرپرست الحاج خليل الرحمان حقاني سره د هغه د کار په دفتر کې وليدل

په دغه ناسته کې د راستنو شويو مهاجرينو په پر ستونزو او اړتياو خبرې وشوې او دا چې په ۲۰۲٤ تم کال کې ددوی ستونزو او مشکلاتو ته څنګه په ګډه رسيدګي وشي

ښاغلي نېکولسن په خپلو خبرو کې وويل: خوښ يو، چې له ٤٠ کاله جګړو وروسته په افغانستان کې سرتاسري امنيت راغلی او مونږ ددې ملاتړ کوو

نوموړي زياته کړه، د مهاجرينو خپل هېواد ته راستنېدل، که څه هم ښه خبره ده، خو يوه ننګونه ده او مونږ د اسلامي امارت کړنې ستايو، چې تراوسه يې دغه ستونزه په ښه توګه مهار کړې ده

نوموړي ژمنه وکړه، چې د افغانانو غږ به په دوحه کې له خپلو شريکانو سره يو ځای په نړيواله کچه پورته کړي

د مهاجرينو چارو وزير له ښه راغلاست وروسته وويل: نه يوازې په دې وروستيو کې په جبر راويستل شوي مهاجرين، بلکې ټول هغه دوه نيم ميليونه مهاجرين، چې په تېرو دوو کلونو کې هېواد ته راستانه شوي دي، سرپناه او بيړنيو مرستو ته اړتيا لري، د مهاجرينو چارو وزارت ددوی لپاره قوي پلانونه په نظر کې لري، خو مرستندويه هېوادونه هم بايد زمونږ سره په همغږۍ او مناسب شکل سره په دې برخه کې مرستو ته دوام ورکړي ترڅو ددوی اساسي ستونزې حل شي

## يک مرکز استقبال برای مهاجرين در خط فرضی بندر غلام خان، در ولايت خوست ساخته می شود

ويب سايت وزارت



Website: *https://morr.gov.af*

Twitter: *https://twitter.com/MoRRAfg*

Facebook: *https://www.facebook.com/morr.gov.af2*



**الحاج خلیل الرحمن حقانی، سرپرست وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان، دیروز طی مراسمی در جریان بازدید از دروازه فرضی بندر غلام خان در ولایت خوست، سنگ تهداب یک مرکز استقبال برای مهاجرین را گذاشت.**

**سرپرست وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان در مراسم یاد شده گفت: با فرا رسیدن فصل بهار ممکن است روند بازگشت سریعتر شود و با توجه به رفتار نا منا سب همسایگان با مهاجران افغان، لازم است آمادگی های همه جانبه را داشته باشیم.**

**قرار است که در این مرکز، اداره ثبت نام، کلینیک، اتاق انتظار، اقامت موقت و سایر امکانات لازم برای برگشت کننده گان مهیا گردد تا مهاجرین برگشت کننده به کشور بتوانند از حقوق خود برخوردار شده و به مشکل روبروه نشوند.**

## د مهاجرینو چارو سرپرست وزیر د پکتیا ولایت د مهاجرینو چارو ریاست څخه لیدنه وکړه

د وزارت ویب سایت



**د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو سرپرست وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني د پکتیا ولایت د مهاجرینو چارو ریاست له مختلفو شعبو څخه لیدنه وکړه او د هغوی غوښتنې او وړاندیزونه یې له نږدې واورېدل**

**ښاغلي حقاني ددغه ریاست له کارکوونکو سره د ناستې پرمهال په اخلاص، اطاعت، همغږی، روڼتیا، د کاري بهیر په چټکتیا، د شریعت پابندي او نورو اړینو اصلاحاتو په رامنځته کولو ټینکار وکړ**

**د پکتیا د مهاجرینو چارو رئیس مفتي حبیب الله شهیدزاده ښاغلي حقاني ته د ریاست د فعالیتونو په اړه معلومات وړاندې کړل او د چټکتیا او روڼتیا په اړه یې ډاډ څرګند کړ**

**په پای کې د ریاست کارکوونکو خپلې ستونزې او مشکلات شریک کړل، چې د حقاني صیب له لورې د حل ډاډ ورکړل شو**

## برای بیش از ۱۰۰ خانواده، درولایت جوزجان کمک خوراکی و غیر خوراکی توزیع شد

ویب سایت وزارت




**برای ۱۸۱ خانواده نیازمند و مستحق در ولایت جوزجان مواد خوراکی و پوشاک زمستانی بتاریخ ۱۸ دلو توزیع شد.**

**خانواده های مذکور از جانب ریاست امورمهاجرین آن ولایت قبلاً مورد شناسایی قرار گرفته بودند، پس ازآن برای ۶۶ خانواده یک بوری آرد، برای ۲۵ خانواده ۵ قلم مواد خوراکی، برای ۹۰ خانواده ۲۹ راس گوسفند ذبح شده و برای ۵۰**

تن اطفال بسته های پوشاک زمستانی از طرف بنیاد خیریه چراغ سبز بود که در هماهنگی ریاست امور مهاجرین جوزجان توزیع شد.

## ۳۰ خانواده، در ولایت پروان کمک شد

ویب سایت وزارت




برای ۳۰ خانواده برگشت کننده اجباری از کشور های همسایه، در ولایت پروان کمک نقدی به تاریخ ۱۹ دلو توزیع شد.

خانواده های مذکور از جانب ریاست امور مهاجرین آن ولایت قبلاً مستحق شناخته شده بودند، که پس ازآن برای هر خانواده مبلغ ۱۰۰ دالر امریکایی کمک موسسه اویک بود که با نظارت اداره امور مهاجرین آن ولایت توزیع شد.

## فارياب کې د دايمي مېشتېدني کمېټي ناسته وشوه

د وزارت ويب سايت




**د راستنېدونکو او داخلي بې ځايه شويو د دايمي مېشتېدني او بيا يوځای کېدني د کميټې ځلورمه ناسته سواغې پر ۱۷ مه د فارياب ولايت د مهاجرينو په رياست کې د اړوندو دولتي ادارو او بنستونو په شتون کې وشوه.**

**د کليو پراختيا رييس او د ولايت مقام استازي مولوي تورجان وويل: د اسلامي امارت په راتګ سره په ټول هيواد کې امنيت تامين شوی او ولايتي اداره د راستنيدونکو او بې ځايه شويو په اړه د غونډو د جوړيدو ملاتړ کوي. او له همکارو بنستونو څخه غواړي چې د کار او روزګار زمينه برابره کړي، ترڅو زموږ خلک بيرته پرديو هيوادونو او د خپل وطن پرېښودو ته اړ نه شي.**

**د فارياب ولايت د مهاجرينو رييس ملا سيف الدين جهادي په دغه ناسته کې د چارواکو د ګډون مننه وکړه او له راستنيدونکو او بې ځايه شويو سره يې د دولتي ادارو او د مرستندويه موسسو د همکاريو غوښتنه څرګنده کړه.**

**د دولتي ادارو او همکارو موسسو استازو هم خبرې وکړې او له راستنېدونکو، بېځايه شويو او يادې کمېټې سره يې د مرستې په برخه کې خپله همکاري څرګنده کړه.**

## برای ۳۰۰ خانواده در ولايت جوزجان مساعدت شد

ويب سايت وزارت




**برای ۳۰۰ خانواده برگشت کننده اجباری ازپاکستان و نیازمند در ولایت جوزجان بسته های صحی و پوشاک زمستانی بتاریخ ۱۸ دلو توزیع شد.**

**کمک یاد شده شامل دو تخته کمپل بسته های صحی و پوشاک زمستانی ازطرف یونسف درآن ولایت بود که هر خانواده آن را پس از شناسایی توسط اداره امور مهاجرین آن ولایت دریافت نمودند.**

## هلمند کي له سلگونو کورنیو سره مرسته وشوه

د وزارت ویب سایت



د هلمند ولایت د مهاجرینوریاست د سلواغې په ۱۸مه له ګاونډیو هېوادونو څخه پر ۸۹۶ راستنو کورنیو د نغدي مرستو د وېش خبر ورکړی.

**يادې کورنۍ تر دې وړاندې د دغه ولايت په مرکز کې د مهاجرينو رياست له لوري پيژندل شوې وې او وروسته د خوراک نړيوال سازمان له لوري د ۳ زره او ۲۰۰ افغانيو نغدي مرسته ورسره وشوه.**

## بیش از ۲۰۰ تن مهاجر ازپاکستان طور اجباری به وطن برگشت نمود

ویب سایت وزارت

**۲۱۲ تن مهاجر افغان به تاریخ ۱۸ دلو از مرز های تورخم و سپین بولدک به کشور برگشت نموده اند.**

**به اساس معلومات آمریت سرحدی سپین بولدک ولایت قندهار ۲۶ خانواده شامل ۱۴۴ تن طور جبری از مرز یاد شده عودت نمودند، و پس ازثبت اداره مهاجرین جهت کمک به دفاتر کمیشنری عالی سازمان ملل متحد، سازمان جهانی خوراک و سازمان بین المللی مهاجرت معرفی شدند.**

**برای هر خانواده مبلغ ۱۰ هزار افغانی از جانب کمیته موظف نیز توزیع شد.**

**به اساس معلومات آمریت سرحدی تورخم ولایت ننگرهار۱۴ خانواده که شامل ۶۸ تن بودند، طور جبری از پاکستان برگشت نمودند و بعد از ثبت دراداره امور مهاجرین جهت کمک به دفاتر کمیشنری عالی ملل متحد و سازمان بین المللی مهاجرت معرفی شدند.**

## تر زرو زيات مهاجرين ايران څخه پخپله خوښه او په جبري توګه هېواد ته راستانه شول

د وزارت ويب سايت

**په ايران کې مېشت يو زره او ۵۶۳ مهاجرين د سلواغې پر ۱۸مه نېټه د هرات د اسلام کلا له لارې خپل هېواد ته راستانه شول.**

**د هرات د اسلام کلا د سرحدي آمريت د معلوماتو له مخې، په ياد کسانو کې کورنۍ هم شاملې وې، چې ۵۶۳ تنه يې اړمن وپېژندل شول او د مرستو په موخه د مهاجرت نړيوال سازمان دفتر ته ور وپېژندل شول چې خوراکي او غير خوراکي توکي يې ترلاسه کړل.**

**دغه راز له ۴۲ کورنيو سره لس لس زره افغانۍ نغدي مرسته وشوه، ۳۹ بې سرپرسته ماشومان د خپلو کورنيو د پېژندنې په موخه وارچلډ موسسې ته ور وپېژندل شول او ۹۶ تنو ته هلته په پوله کې د ګومارل شوو کمپتو له خوا وړيا سيمکارتونه وويشل شول.**

**او ۴۴۲ تنه نور له روغتيايي خدمتونو برخمن شول.**

## کمیته صلیب سرخ نسبت به آینده نا روشن پناهنده گان افغان برگشته از پاکستان هشدار داد

رادیوآزادی




**شماری از کودکان و زنان افغان که از پاکستان اخراج شده و به افغانستان برگشته اند**

**کمیته بین المللی نجات(آی آر سی) هشدار داد که بیش از نیم میلیون افغان جبراً برگشت داده شده از پاکستان به افغانستان، با آینده تیره ای روبرو اند.**

**کمیتهٔ آی آر سی این هشدار را به دنبال گذشت صد روز از تصمیم پاکستان برای اخراج اجباری ۱.۷ میلیون پناهجویان افغان از این کشور، به روز جمعه (۹ جنوری) در شبکه اجتماعی ایکس تویتر سابق خود بیان کرد .**

**همزمان،این کمیته بین المللی گفته که پناهندگان افغانی که به دنبال ورود به ایالات متحده از طریق ویزه ای مهاجرتی ویژه(SIV) ، P-2، در تلاش پیوستن با خانواده اند، با چالش های زیادی دست به گریبان اند.**

**کمیته بین المللی نجات برای خدمت به پناهجویان افغان در منطقه از جمله در گذرگاه تورخم، برنامه‌هایی دارد. همچنان ۲۸ دفتر این کمیته در ارتباط به الحاق خانواده ها،در ایالات متحده امریکا کار می کنند .**

## یونان: اروپایي محکمي حکومت ته امر کړی چي يوې مېرمني او ماشوم ته يي اسانتياوې برابرې کړي

مهاجرنیوز




**د اروپا د بشري حقونو محکمې د دوشنبې په ورځ یونانې چارواکو ته امر وکړ چې یوې پناه غوښتونکې او کوچنۍ ماشوم ته یې مناسبه سرپناه ورکړي او ورته د خوړو، اوبو، جامو او مناسبو درملو د لاسرسي زمینه برابره کړي. دغه کورنۍ د یونان په ساموس کمپ کې ژوند کوي.**

**د اروپا د بشري حقونو محکمې د دوشنبې په ورځ د فبرورۍ په پنځمه یونانې چارواکو ته امر وکړ چې یوې کډوالې مېرمنې او تازه زیږېدلي ماشوم ته یې مناسبه او خوندي سرپناه ورکړي او ورته د خوراکي توکو، اوبو، کالیو او مناسبو درملو د لاسرسي زمینه برابره کړي.**

**یاده کورنۍ د ساموس په دولتي کمپ کې ژوند کوي او آی هف رایتز په نوم سازمان یې په نیابت محکمې ته شکایت ثبت کړی.**

**دغې ښځې او کوچنۍ ماشوم یې له یوه نارینه سره چې ورسره هېڅ تړاو نه لاره په یوه کوټه کې ژوند کاوه او روغتیایي اسانتیاوو ته یې لاسرسی نه درلود. د آی هو رایتز سازمان په خبره، دغه وضعیت یاده کډواله له روحي ستونزو سره مخ کړې ده.**

**ساموس کمپ چې په ۲۰۲۱ کال کې جوړ شوی د اروپایي چارواکو له خوا د د کډوالو د هرکلي د یوې بېلګې په توګه یادېده. اروپایي ټولنې د ساموس، کوس او لېروس کمپونو پر جوړولو ۲۷۰ میلیونه یورو مصرف کړي دي.**

**خو په ۲۰۲۳ کې بیا یادې ټولنې دغو کمپونو کې پر موجود وضعیت نیوکه وکړه. د الجزیرې د راپور له مخې، یادو مراکزو کې د امنیت، پناه غوښتنې، روغتیایي خدماتو او ژباړونکو ته د لاسرسي په برخو کې زیاتې نیمګرتیاوې لیدل شوې دي.**

**دا هم ولولئ**

**یونانی ټاپوګان: اروپایی ټولنه منی چی په کمپونو کی د کډوالو له حقونو سرغړونه شوی**

**په یو راپور کې چې د رفیوجي سپورټ ایجین او پرو ازول سازمانونو د روان کال د فبرورۍ په ۶مه خپور کړی دغه کمپ کې د کډوالو د ژوندانه وضعیت «د شرم وړ» بلل شوی دی .دمګړی د ساموس په مرکز کې شاوخوا ۴۰۰۰ پناه غوښتونکي ژوند کوي چې په ډله کې یې ۲۰ سلنه ښځې او ۲۳ سلنه ماشومان هم دي.**

**مرستندویه سازمانونه وایي چې نوي رسېدونکي کډوال اړ دي چې په یوه کوټه کې چې په اصل کې کافیتریا ده پر ځمکه او یا پر میزونو باندې خوب وکړي. د ۲۰۲۳ د نومبر په میاشت کې یو شمېر کډوالو د یاد مرکز په حویلۍ کې په داسې سرپناوو شپې تېرې کړې چې له ډبرو او ترپالونو څخه جوړې شوې وې**

**»څلور ورځې کیږي چې حمام مې نه دی کړی«**

**په راپور کې د امیر په نوم د یوه پناه غوښتونکي له قوله راغلي دي: «په ورځ کې تشنابونو کې یوازې یو یا دوه ساعته اوبه شته.» د نسیم په نوم یو بل کډوال ویلي دي: «څلور ورځې کیږي چې حمام مې نه دی کړی ګرمه اوبه نشته. د حمام کولو او د [کمپ] د پاکولو لپاره په ورځو ورځو انتظار کوو«...**

**په مرکز کې کافي خواړه هم نشته. د کمپ اوسېدونکي اړ دي چې د خوړو د ترلاسه کولو لپاره په اوږدو لیکو کې انتظار وباسي. نسیم وایي: «ځینې وختونه خواړه نه پاتې کیږي. د دې مانا دا ده چې دلته د ټولو لپاره خواړه نشته. ماشومان مې د خوړو د بد کیفیت، سړې هوا او نامناسبو جامو له له امله په ناروغیو اخته شوي دي.**



ساموس کمپ کې کډوالو ته ځانګړې شوې کوټه. انځور: رویترز

د کمپ اوسېدونکي همداراز وایي چې هلته یوازې یو ډاکتر شته چې هغه هم هره ورځ په مرکز کې نه دی. د دې ستونزې د هوارولو لپاره د بې سرحده ډاکترانو ګرځند کلینیک په اونی کې درې ځله کډوالو ته روغتیایي خدمات برابروي. په راپور کې راغلي دي چې دغه حالت په کمپ کې د ځینو ناروغیو لکه د خارښت د خپرېدو سبب هم ګرځېدلی دی.

## د شکنجې د مخنیوي کمیټه: کډوال د نامعلومې مودې لپاره زندان ته ورته توقیف ځایونو کې ساتل کېږي

مهاجرنیوز




د اروپایي شورا د شکنجې د مخنیوي کمیټې د یو راپور په خپرولو ویلي دي د برېتانیا د اخراج په مرکزونو او توقیف ځایونو کې کډوال د نامعلومې مودې لپاره زندان ته ورته توقیف ځایونو کې ساتل کېږي. د یادې اداري پلټونکو زیاته کړې ده چې دغه وضعیت یو شمېر مهاجر له رواني ستونزو سره مخ کړي دي .

د اروپایي شورا د شکنجې د مخنیوي کمیټې د پنجشنبې په ورځ برېتانیا کې د اخراج په مرکزونو او توقیف ځایونو کې د کډوالو د وضعیت په اړه یو نوی راپور خپور کړ. د دغې اداري پلټونکو د ۲۰۲۳ د مارچ له ۲۷مې څخه د اپریل تر ۶مې پورې له یو شمېر هغو مرکزونو او زندانونو څخه لیدنه وکړه چې کډوال پکې ساتل کېدل.



Website: *https://morr.gov.af*

Twitter: *https://twitter.com/MoRRAfg*

Facebook: *https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

په دغه راپور کې راغلي دي چې ځينې دغه توقيف ځايونه زندان ته ورته دي او پکې د کډوالو ساتل مناسب نه دي. پلټونکو ويلي دي چې ډېری وختونه په يادو مراکزو کې د مهاجرو د بند موده معلومه نه ده او يو شمېر کډوال ښايي د کلونو لپاره په بند کې وساتل شي.

د راپور له مخې، دغه وضعيت يو شمېر کډوال له روحي ستونزو سره مخ کړي دي چې له امله يې ځينو کسانو هڅه کړې ځانونو ته زيان ورسوي. د يادې ادارې پلټونکو زياته کړې ده چې د ۲۰۲۳ په مارچ مياشت کې د هېثرو په هارموندس ورث او کولن بروک توقيف ځايونو کې خپل ځان ته د زيان رسولو ۱۸ پېښې ثبت شوې دي.

په ورته مهال توقيف ځايونو کې روغتيايي کارکوونکو پلټونکو ته ويلي دي چې يو شمېر ناروغانو ته مناسبه رسيدګي نه شي کوي ځکه دغه کسان بايد په رواني روغتونو کې وساتل شي.

دا هم ولولئ
<u>برېتانيا: لږترلږه ۱۳۰۰ کم عمره کډوال په غلطه د بالغو کسانو په توګه پېژندل شوي</u>

»تحقير کوونکې» پاليسي

په راپور کې دا هم راغلي دي چې د ۲۰۲۳ په لومړيو مياشتو کې د بروک هوس توقيف ځای کارکوونکو په ۷۸ مواردو کې د بنديانو پر وړاندې له زوره کار اخيستی دی، خو کولنبروک او هارمونسورث توقيف ځايونو کې په ترتيب سره ۲۶ او ۲۰ ځله له زوره کار اخيستل شوی دی.

پلټونکو همدارنګه اندېښنه ښودلې ده چې ډېری وختونه روغتونونو ته د تګ پر مهال د زيان منونکو ښځو لاسونه د بستر په چپرکټونو زولانه شوي دي. دوی دا يوه «تحقير کوونکې» پاليسي بللې او ويلي يې دي تطبيقول يې ځکه ضروري نه دي چې «هره ښځه د دوو کسانو له خوا بدرګه کيږي.«

په ورته مهال اندېپندنت ورځپاڼې د کبر ۴ کالې سازمان د مشر ستيف سميث له قوله ليکلي دي: «د بند اوږدې مودې، نامناسب روغتيايي امکانات او فزيکي محدوديتونه د خلکو پر رواني او جسمي وضعيت ناوړه اغېز لرلی شي .حکومت بايد پوه شي چې د برېتانيا د توقيف سيستم د خلکو ژوند له منځه وړي او د اوسني ظالمانه پاليسی د پراخولو پر ځای بايد انساني بديلونه رامنځته کړي«.

د ۲۰۲۳ په لومړيو مياشتو کې د برېتانيا له توقيف ځايونو څخه د خوشي شويو کډوالو له ډلې ۸۲ تنو يې له ۶ څخه تر ۱۲ مياشتو، ۳۰ تنه له ۱ څخه تر ۲ کلونو او ۵ تنه يې له ۲ څخه تر ۴ کلونو پورې په بند کې تېر کړي وو .

دا هم ولولئ
<u>برېتانيا : الکترونيکي لاس بندونو کډوال له رواني ستونزو سره مخ کړي دي</u>

## کشتی غرق شده در سواحل ایتالیا: یک قاچاقبر به ۲۰ سال حبس محکوم شد

مهاجرنيوز



پس از مرگ دست کم ۹۴ پناهجو در سانحه غرق شدن یک کشتی که سال گذشته در بحیره مدیترانه رخ داد، یک قاچاقبر در ایتالیا به ۲۰ سال حبس محکوم شد .سرنشینان این کشتی از کشورهای افغانستان، پاکستان، سوریه و ایران بوده اند .

بنا به گزارش رسانه های ایتالیایی، روز چهارشنبه، یک محکمه در کروتونه که در جنوب ایتالیا قرار دارد، این قاچاقبر را که دارای شهروندی ترکیه است، به دلیل مسئولیت در غرق شدن کشتی و عضویت در یک شبکه قاچاقبران محکوم کرد. کشتی یاد شده حدود یک سال پیش غرق شد.

افزون براین قاچاقبر ۲۹ ساله ترک، به جریمه نقدی ۳ میلیون یورو و پرداخت جبران خساره به شاکیان محکوم شد.

کشتی پناهجویان با حدود ۱۸۰ مهاجر از افغانستان، پاکستان، سوریه و ایران در ۲۶ فبروری ۲۰۲۳ در برابر ساحل کالابریا در طی یک طوفان غرق شد. این کشتی که حامل شمار زیادی از کودکان بود، سفرش را از ساحل ترکیه آغاز کرده بود.

در همین زمینه
<u>مرگ مهاجران در کامیون: آخرین قاچاقبر به ۷ سال زندان محکوم شد</u>

بنا به گزارش ها در این کشتی چهار قاچاقبر سفر نیز می کردند که یکی از آن ها جانش را در این سانحه از دست داده است. قاچاقبری که حالا محکوم شده در برابر محکمه ادعا کرد که فقط به عنوان مکانیک کشتی استخدام شده بود و وظیفه هدایت آن را برعهده نداشته است.

افزون براین او گفت که مجبور شده »به دلایل سیاسی» از ترکیه فرار کند و به خاطر انتقاد از رجب طیب اردوغان، رئیس جمهور آن کشور مدتی را در زندان به سر برده است.

خبرنامه